# بهترین خطاکار څوک؟

02-March-2023



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

په 2 مارچ 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# بهترین خطاکار څوک؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

په اَلقولُ البَدِيع كښې دي: د وفات نه پس حضرت ابو العباس احمد بن منصور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شيراز والؤ كښې چا په خوب كښې اوليدو چې د لعلونو تاج ئې په سر دے او د شيراز د جامع مسجد په محراب كښې ولاړ دے، خوب ليدونكي عرض اوكړو: مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائيله؟ اوئې فرمائيل: ما به ډير زيات درود شريف لوستل دغه عمل مې پكار راغے چې الله پاک زه اوبخښلم او تاج ئې راته را په سر كړو او جنّت ته ئې داخل كړم.[1]

ہر درد کی دوا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد (صلی اللہ علیہ وسلم) | تعویذِ ہر بلا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد (صلی اللہ علیہ وسلم)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک كښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي.[2]

---

1... القول البديع، صفحه:123۔

2... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي. د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❁ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ❁ د علمِ دِین زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❁ چې څومره کیدے شو د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❁ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بیان اورم ❁ څه چې واورم ښخپله به پرې د عمل کولو او نورو د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ستا توبه قبوله ده

مشهور صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د یو ځل خبره ده چې ما د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اِقتدا کښې د ماسخُتن لمُونځ ادا کړو او بیرته را روان ووم، ما اولیدل چې یوې زنانه ښه پوره پرده کړې ده او د لارې په غاړه ولاړه ده، هغې ما ته غږ اوکړو او اوئې وئیل: اے ابو هریره! زما نه ډیره غټه ګناه شوې ده، آیا زما د پاره توبه شته؟ ما د هغې نه د ګناه د تفصیل پوښتنه اوکړه، هغې اووئیل نو ما ورته اووئیل: تهٔ هلاکه شوې او نور خلق دې هم په هلاکت کښې اوغورزول (د دومره غټې ګناه کولو نه پس هم د توبے طمع ساتې)، په الله پاک مې دې قسم وي! ستا د پاره هیڅ توبه نشته.

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: هغې زنانه چې څنګه زما خبره واوریدله نو د پښیمانئ او شرم غلبه پرې راغله، هغه په زوره په ریبدو شوه او په ریبدو ریبدو کښې بے هوشه شوه او راپریوتله. زه په خپله لاره لاړم.

بیا زما خیال راغے چې د الله پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ په مینځ

کښې موجود دے، ما د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د پوښتنې کولو نه بغير حکم واورولو، نو هم دغه شان چې سحر شو نو زه د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شوم، د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې مې ټوله قيصه عرض کړله، نبئ رحمت، شفيعِ اُمّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې زما خبره واوريدله نو اوئې فرمائيل: اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ، اے ابو هريره! تهٔ ځپله هم هلاک شوې او هغه زنانه دې هم په هلاکت کښې اوغورزَوَله، آيا تا ته د الله پاک دا فرمان ياد نه دے:

اِلَّا مَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓىٕكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا۝۷۰

(پاره:19 ، سورۂ فُرقان: 70)

[مفهوم]ترجَمۂ کنزُ العرفان: خو چې څوک توبه کړي او ايمان راوړي او ښه کار اوکړي نو د داسې [خلقو] ګناهونه به الله په نيکو کښې بدل کړي او الله بخښونکے مهربانه دے.

حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله دا آيت مبارک او د خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان واوريدو نو هغوئي ته احساس اوشو چې ما غلطه مسئله ښودلې ده، په هغوئي باندې دا احساس دومره غالب شو چې هغوئي د مدينې منورې په کوڅو کښې غږ کولو: يوې زنانه د شپې زما نه د مسئلے پوښتنه کړې وه، آيا څوک وئيلے شي چې هغه زنانه څوک ده؟ هغوئي ټوله ورځ دغه شان نعرې وهلے، تر دې چې شپه شوه نو ما هغه زنانه په هغه پروني ځائے کښې ولاړه اوليدله،ما هغې ته د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك واورولو او اومې وئيل چې بے شکه ستا د پاره توبه ده (يعني الله پاک ډير غفَّار دے، تهٔ توبه اوکړه نو الله پاک به ئې قبوله کړي). دا ئې چې واوريدل نو زنانه خوشحاله شوه او د خوشحالئ نه هغې اووئيل: زما يو باغ دے، زه د خپلې ګناه په کفاره

کښېږي هغه باغ د الله پاک په لار کښې صدقه کووم.[1]

| | |
|---|---|
| درد دِل کر مجھے عطا یاربّ! | دے مرے دَرد کی دَوا یاربّ! |
| لاج رکھ لے گنہگاروں کی | نام رحمٰن ہے ترا یاربّ! |
| عیب میرے نہ کھول محشر میں | نام ستّار ہے ترا یاربّ! |
| بے سبب بخش دے نہ پوچھ عمل | نام غفّار ہے ترا یاربّ![2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## غلطې مسئلې مه بيانوئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د دې روايت نه مونږ ته ډېر مدني ګلونه د زده کولو د پاره ميلاوېږي، مثلاً (1): يو مدني ګُل خو دا ميلاوْ شو چې مونږ له چرې هم بغير د عِلم نه د خپل ځان نه شرعي مسئله نه دي بيانول پکار، څوک چې د عِلم نه بغير ديني مسئلې ښائي هغه ځپله هم هلاك کيږي او نور هم په هلاکت کښې غورزَوي. (2): دويم مدني ګُل دا ميلاوْ شو چې که چرې الله دې نه کړي چا چاته غلطه مسئله بيان کړې وي يا ئې په صحيح مسئلو وئيلو کښې څه غلطي کړې وي نو هغه له پکار دي چې د دې ازاله اوکړي، اوګورئ! حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته چې کله د صحيح مسئلې عِلم اوشو نو هغوئي د دې ازاله اوکړه او څنګه ازاله ئې اوکړه: ټوله ورځ ئې د مدينې منورې په کوڅو کښې نعرې اوهلې چې څوک شته چې د هغې زنانه په باره کښې اووائي (د پاره د

[1]... كِتَابُ التَّوَّابِين، صفحہ:94۔
[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:84۔

دې چې صحيح مسئله ورته بيان کړم). سُبْحٰنَ الله! د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان اداګانے ځانګړې دي.

په هغه دور کښې ظاهره ده چې په خپل مينځ کښې د رابطو داسې ذريعے نه وے لکه څنګه چې اوس دي ❁ نن صبا خو فيس بُک ❁ يوټيوب ❁ موبائل فون ❁ انسټاګرام پته نه لګي چې څه څه ايجاد شوي دي او ورسره بے احتياطي هم زياته شوه ❁ خلق غلطې مسئلے شيئر کوي ❁ مسيجونه ليږي ❁ د دين معلومات خو ورسره نه وي، بس څه مسيج راغے، څه پوسټ راغے، ښه اولګيدو او مخکښې ئې اوليږو، يو بټن وهل دي، يو دوه نه، په سوؤنو، په زرګونو بلکه لکونو خلقو ته هغه غلطي اورسي. اوس د دې ازاله څوک اوکړي؟ چې ديني معلومات وي نو پته به اولګي چې ما غلطه مسئله شيئر کړې ده.

بهر حال! غلطې مسئلے، څه غلطه خبره د دين سره تړل او خلقو ته رَسَوَل سخت خطرناک دي، الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ مَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

(پاره:7، سورهٔ انعام:21)

[مفهوم] ترجَمهٔ کنزُ الايمان: او د هغه نه زيات ظالم څوک [دے] چې په الله باندې دروغ اوتړي.

معلومه شوه: چې په الله پاک باندې دروغ تړونکے د ټولو نه غټ ظالم دے، چې مونږه چا ته ديني مسئله اووايو نو د دې مطلب خو هم دا دے چې الله او رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په دې باره کښې دا فرمائي، که چرې هغه مسئله غلطه ده نو دا به په الله پاک باندې دروغ شي او په الله پاک باندې دروغ تړونکے د ټولو نه غټ ظالم دے. د الله پاک پناه! الله پاک دې زمونږه حفاظت اوکړي.

بهر حال! چا چې په فيس بُک باندې، يوټيوب باندې، انسټاګرام يا واټس ايپ (*WhatsApp*) وغيره باندې غلطه مسئله پوسټ کړه نو هغه له پکار دي چې فوراً د هغې ازاله اوکړي، مثلاً څوک داسې ليک جوړ کړي چې په فلانکئ ورځ ما فلانکے پوسټ کړے وو، په هغې کښې دا خبره غلطه وه، صحيح دا ده، ځکه زه د خپلې غلطۍ نه توبه کووم او رجوع کووم.

او د دې ټولو بهترين حل دا دے چې څه هم شيئر کول وي علمائے کرامو ته ئې اوښائې او شيئر ئې کړئ او يو ډير آسان حل دا دے چې د دعوتِ اسلامي په ويب سائټ *www.dawateislami.net* باندې د *Gallery* په نوم يو آپشن دے، په دې کښې د مفتيانو صاحبانو نه چيک کړے شوي اسلامي پوسټونه موجود دي، د هغه ځائے نه پوسټونه ډاؤن لوډ کړئ او شيئر ئې کړئ، دغه شان په دغه ويب سائټ باندې يو آپشن دے: *Public Service Message* په دې کښې ډير ښکلي ښکلي ديني او اصلاحي شارټ ويډيو کلپس موجود دي، دا هم ډاؤن لوډ کيدے شي او په سوشل ميډيا باندې شيئر کيدے شي او ثواب ګټلے کيدے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## لکه چې ګناه ئې کړې نه وي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږه د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د سبق نه ډکه واقعه واوريدله، د دې نه يو ډير اهم مدني ګُل دا د زده کولو د پاره ميلاويږي چې انسان که هر څومره هم غټه ګناه ولې نه وي کړې، که چرې هغه په خپله ګناه باندې پښيمانه وي، د

الله پاک په لور رجوع اوکړي نو الله پاک د هغه توبه قبلوي. د خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّاذَنْبَ لَهٗ د ګناه نه توبه کوونکے داسې دے لکه چې هغه ګناه هډو کړې نه وي.[1]

## په انسان باندې د الله پاک مهربانۍ

د حضرت عبدُ الله بن عُبَيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے، فرمائي: د الله پاک نبي او زمونږ د ټولو انسانانو والدِ محترم حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے رَبِّ کريمه! تا شيطان زما دښمن جوړ کړے دے، خو زما اولاد د هغه د مقابلے طاقت نه لري. الله پاک اوفرمائيل: اے آدمه! ستا په اولاد کښې به (تر د قيامته پورې چې کوم انسان هم پيدا کيږي) د هغه سره به يوه محافظه فرښته مقرر کړم کومه چې به د هغه د شيطان نه حفاظت کوي. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: مولٰی! نور کرم اوفرمايا. الله پاک اوفرمائيل: اے آدمه! ستا اولاد ته به د يوې نيکۍ اجر لس چنده ميلاويږي او دا به نور زياتووم او ګناه به ئې هم يوه ليکلے شي او په دې کښې به ئې ورانووم هم. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام بيا عرض اوکړؤ: مولٰی! نور کرم اوفرمايا. الله پاک اوفرمائيل: اے آدمه! تر څو پورې چې رُوح د انسان په بدن کښې وي، زه به د هغه توبه قبلووم.[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! زمونږ پاک پروردګار څومره کريم، څومره رحيم دے. څکه چې کله هم ګناه اوشي د رَبِّ کريم په حُضُور کښې حاضر شئ، توبه اوکړئ،

---

[1]... ابنِ ماجہ،کتاب الزہد، باب ذکر توبہ، صفحہ:689، حدیث:4250۔

[2]... تَنْبِيْهُ الْغَافِلين، باب التوبہ، صفحہ:52۔

د خپلې غلطۍ اِقرار اوکړئ او پښيمانه شئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! توبه به قبوله شي او د ګناهونو د خِيرې نه به لمَن صفا شي.

## د توبې برکت فوراً ظاهر شو

حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه ډير لوئې ولئ کامِل تير شوے دے، د بصرې دښار اوسيدونکے وو، د توبې کولو نه وړاندې هغوئي ډير زيات مالداره وو او خلقو له به ئې په سود باندې قرض ورکولو، حال ئې داسې وو چې کله به په يو قرضدارې پسې د قرض بيرته اخستلو د پاره تللو او هغه به نشو ورکولے نو د هغه نه به ئې د خپل وخت د ضائع کيدو جُرمانه هم حاصلوله، يو ځل هغوئي په يو قرضداري پسې لاړل، دروازه ئې اوډَبَوله، هغه قرضدارے خو پخپله په کور کښې موجود نه وو، البته د هغه ښځې اووئيل چې زما خاوند خو په کور کښې نشته، نه زما سره پيسې شته کومې چې تاسو له درکړم، البته نن مونږه چيلۍ حلاله کړې وه، د هغې ټوله غوښه ختمه شوې ده، سَر ئې پاتې دے، که چرې هغه اخلې نو واخله، حبيب عجمي (رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه) د چيلۍ سر واخستلو او کور ته راغے، ښځې ته ئې اووئيل: دا پوخ کړه! ښځې ورته اووئيل: په کور کښې نه لرګي شته، نه بَل څه راشن، هم دغسې تاسو لرګي وغيره هم د قرضدارو نه راوړئ، ښځې ئې غوښه په کټوۍ کښې باندې کړه، اوس لا خوراک پوخ شوے هم نه وو چې يو سوالګرے راغے، حبيب عجمي (رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه) هغه ته هم ستغې سپورې اووئيلې او اوئې ويستلو، خوراک پوخ شوے وو، هغوئي د خوراک د پاره کښيناستل خو څنګه چې ئې ښځې د کټوۍ نه سر لرې کړو نو د هغه چيلۍ د سر په ځائے [کټوۍ] صرف د وينې نه ډکه وه،

ښځې ئې چغې کړې او اوئې وئیل: اوګوره ستا د کنجوسئ نتیجه...!! کټوئ د وینې نه ډکه پرته ده.

د کټوئ داسې په وینه کښې بدلیدل لکه چې د قُدرت یو خبردارے وو، کوم چې حضرت حبیب عجمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سنجیده واخستلو او فوراً ئې د ټولو ګناهونو پریښودو پخه اراده اوکړه، اوس حضرت حبیب عجمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د کور نه بهر اووتلو، په کوڅه تیریدلو چې هلته ماشومانو لوبے کولې او یو بَل ته ئې وئیل: لرې شئ! حبیب سُود خور راروان دے، که چرې د ده د قدمونو ګرد په مونږه راپریوتو نو مونږه به هم بدبخته شو.

دا دویم چوټ وو، اوس خو د حضرت حبیب عجمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه زړه بالکل ویلې شو، هغوئې فوراً د حضرت امام حسن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شول او د ټولو ګناهونو نه ئې رښتینې توبه اوکړه.

د توبے نه پس هغوئې بیرته خپل کور ته راتلل چې اوئې کتل، هغه ماشومانو په کوڅه کښې لوبے کولې، اوس هغه ماشومانو هغوئې اولیدل نو یو بَل ته ئې اووئیل: اوس حبیب توبه کړې ده او راروان دے، لرې شئ، که چرې زمونږ د قدمونو ګرد په هغه پریوتو نو مونږ به ګنهګار شو.

حضرت حبیب عجمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې کله د ماشومانو خبره واوریدله نو ځان سره اوګڼیدو او د الله کریم په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: واه مالِکه! ستا قدرت هم عجیبه دے، هم نن ما توبه کړله او هم نن تا زما د نیک نامئ اعلان هم اوکړو.

د دې نه پس حضرت حبیب عجمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ټولو حقونه ادا کړل، د چا سره چې ئې د

سود لين دين وو، هر څه ئې ختم کړل او د الله پاک په عبادت کښې مصروف شو.[1]

مَحبت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی!
عبادت میں گزرے مِری زندگانی | کرم ہو کرم یَاخدا! یاالٰہی![2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## آيا عزّت بيا نه ميلاؤيږي...؟

**محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! په توبه کوونکي باندې د الله پاک رحمت څومره په تيزئ سره راوريږي. عام طور وئيلے شي: عزّت بيا نه ميلاويږي.

کيدے شي چې د محاورې تر حده پورې دا خبره صحيح هم وي، البته که د الله پاک کرم ته اوکتلے شي، د بزرګانِ دين د ژوند حالات اولوستلے شي نو پته لګي چې که چرې انسان لاره صحيح اختيار کړي نو تلے عزّت هم بيرته ميلاؤيږي. اوګورئ! حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د سود لين دين کولو، تر دې پورې چې د کوڅې ماشومانو هم د هغوئي نه نفرت کولو، چې هغوئي به ئې اوليدل نو لرې به ترې تښتيدل چې هسې نه چې د هغوئي د قدمونو ګرد په مونږ باندې رانشي، ګنې بيا به مونږه هم بدبخته شو خو څنګه چې هغوئي توبه کړه، د الله پاک په حُضُور کښې ئې سر ټيټ کړو، د الله کريم سره ئې تعلق صحيح کړو نو لږ وخت پس هغه ماشومانو وئيل: لرې شئ! حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته لاره پريږدئ، که چرته زمونږ د قدمونو ګرد په هغوئي پريوتو نو مونږ به ګنهګار شو.

---

[1]... تَذْکِرَةُ الْاَوْلِیاء، نیمہ اول، ذکر حبیب عجمی رَحمۃُ اللہِ علیہ، صفحہ:56۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:105 ملتقطًا۔

پته اولګيده چې عزّت بيا ميلاؤيږي، شرط صرف يو دے: چې انسان لاره صحيح اختيار کړي. د اوليائے کرامو سيرت راواخلئ او اوئې ګورئ! په زرګونو اوليائے کرام دي کوم چې د توبے نه مخکښې په ګناهونو کښې مشغول وو، په معاشره کښې هغوئي ته په بد نظر کتلے شو، خلقو به د هغوئي نه نفرت کولو خو څنګه چې هغوئي توبه کړه، د نيکۍ لارې مسافر جوړ شول، په عبادت او رياضت کښې مصروف شول نو هغه خلقو کومو چې به مخکښې نفرت کولو، د هغوئي د استعمال شوؤ څيزونو نه به ئې برکت اخستلو ❁ **حضرت فضيل بن عياض** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه : د توبے نه مخکښې ډاکو وو، دا څه قيصه نه ده، واقعي حقيقت دے چې د شپې به ماشوم نه اوده کيدو نو ميندو به وئيل: ځويه! اوده شه! ګني فضيل ډاکو به راشي.[1] په کومه لار چې به هغوئي وو، خلق به د ويرې نه په هغه لاره نه تلل خو کله چې هغوئي توبه کړه، د چا مال چې ئې لوټ کړے وو، بيرته ئې ورکړو، ټول حقونه ئې ادا کړل، د الله پاک په عبادت کښې، په نيک کارونو کښې مصروف شو نو هم دغه حضرت فضيل بن عياض رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وو چې د وخت بادشاه د هغوئي په دروازه ولاړ وو او ډير په عاجزئ ئې عرض کولو: عالي جاه! يو ځل د ملاقات وخت عطا کړئ![2]

❁ **هم داسې حضرت بِشر حافِي** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه : د توبے نه مخکښې شرابي وو، ماشوم ماشوم به هغوئي ته شرابي وئيلو، د هغوئي د ميلاويدو صرف يو ځائے وو او هغه وو: شراب خانه. مونږ ته پته ده چې شرابيانو، نشيانو ته نن صبا زمونږه په معاشره کښې څومره عزّت ورکولے شي...! نو په هغه دور کښې چې کله نيکي غالبه وه، هغه وخت به شرابيانو ته په کومو سترګو کتلے کيدل خو د الله کريم د رحمت نه زار شم! حضرت بِشر حافِي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه توبه کړه، د نيکۍ لارې مسافر شو نو رَبِّ کائنات ورله داسې عزّت ورکړو چې په کومه

---

[1]... اوليا رِجال الحديث، فضيل بن عياض، صفحہ:184 بتغير قليل۔
[2]... تَذْكِرَةُ الْاَوْلِياء، ہميمہ اول، ذكرفضيل عياض رَحمۃُ اللہِ عليہ ، صفحہ:78 ماخوذًا۔

لاره به هغوئي تللو، څناورو به هم د هغې لارې ادب کولو او په هغې به ئي ګند [يعني واره بول او غوشان] نه کولو.[1]

دا دي د عزّت بيا ميلاوېدل، چې مونږه صحيح لاره اختيار کړو نو اوګورئ، عزّت ميلاويږي، دلته خلق ګني ❀ عزّت د پيسو سره ميلاوېږي ❀ په منصب او عهدو سره ميلاوېږي ❀ په ځان ښودنې سره عزت ميلاويږي ❀ چې د بنده سره ګران ګاډے وي ❀ ګران موبائل په لاس کښې وي ❀ د زرګونو جامې اچولې وي ❀ په عاليشانه بنګلو کښې اوسيږي نو عزت ميلاويږي خو داسې نه ده، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ؕ (پاره:22، سورۀ فاطر:10) | [مفهوم] ترجَمۀ کنزُ الايمان: څوک چې د عزّت طلب ګار وي نو هم ټول عزّت د الله سره دے. |

ټول عزّت د الله پاک سره دے، د عزّت او ذِلّت مالِک رَبِّ کائنات دے، د هغه دروازے ته راشي، دلته سر ټيټ کړي، د ګناهونو نه توبه کړي، د خپل مالِکِ کريم په حُضُور کښې حاضر شي او عرض اوکړي: مولا! تنښتيدلے بنده حاضر دے، اے کريم مالکه! قبول ئې کړه، په دې ګنهګار بنده باندې کرم اوکړه، بنده په خپلو ګناهونو، نافرمانو باندې په رښتينې زړه سره پښيمانه شي او عرض اوکړي:

| | |
|---|---|
| میں بندۂ عاصی ہوں، خطاکار ہوں مولیٰ! | لیکن تری رحمت کا طلبگار ہوں مولیٰ! |
| وابستہ ہے اُمّید مری تیرے کرم سے | تیرا ہوں، فقط تیرا پرستار ہوں مولیٰ! |

دا ده د عزّت ميلاويدو صحيح لاره، دلته ټيټ شئ او اوګورئ! الله کريم به کرم اوکړي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ضرور به کرم اوکړي.

---

[1] ... فضائلِ دعا، صفحه:256 بتغير قليل۔

## د الله پاک په لاره باندې وړومبے قدم

علمائے کرام فرمائي: د الله پاک د لارې ډېر منزلونه دي: ✿ مقامِ ورع ✿ مقامِ زُهد ✿ مقامِ فقر ✿ مقامِ صبر ✿ تَوَکُّل ✿ رضا وغيره ډېر زيات منزلونه دي، البته چې چا ته د الله پاک په لار باندې تلل وي، د هغوئي د پاره د ټولو نه وړومبے قدم **توبه** ده.[1]

دا ئې يو سر دے. تار چې اونښلي نو هغه به څنګه سموې؟ د ټولو نه وړومبے سر لټوي، چې سر ميلاؤ شي نو نښتے تار ډېر په آسانئ سره سَم شي، زمونږه ژوند نښتے دے ✿ څوک په پيسه کښې نښتے دے ✿ څوک عهدے او منصب طرف ته منډې وهي ✿ څوک په پريشانو کښې اخته دے ✿ څوک په غړيدلو سترګو په خوبونو ليدلو کښې مصروف دے، ژوند نښتے دے، که چرې دا سَمَول دي نو سر ئې اونيسئ او سر ئې څه دے؟ توبه.

دا د الله کريم ډېر کرم دے، هغه د توبے وَر هميشه برسيره پريښودے دے، مونږه چې د ژوند په کوم اړخ هم يو، مونږه د زمکے نه تر آسمانه پورې ګناهونه کړي دي، د ګناهونو د غرونو لاندې ګير يو، بيا هم سر موجود دے، چرته چې ئې، د هغه ځائے نه د ژوند اړخ بدل کړئ، د خپل رَبِّ کريم په حُضُور کښې سر ټيټ کړئ او عرض اوکړئ:

کب گناہوں سے کنارا میں کروں گا یارب
عَفْو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا!

نیک کب اے مرے اللہ! بنوں گا یارب
گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یارب!!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... اللُّمَع، باب:21، صفحہ:109۔

# د توبه کوونکي مؤمِن مثال

یو ځل د الله پاک نبي حضرت عیسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام د خپلو حواریانو سره تشریف فرما وو، یوه ډېره زیاته ښکلې مرغۍ هلته راغله او د هغوئي په مخکښې په زمکه په پرړېدو شوه، هغې خپل ځان په زمکه پسې دومره اومږلو چې خرمن ئې لرې شوه، اوس د هغې سر ګنجے وو او ډېره بد رنګه ښکاریدله، بیا هغه ختو ته لاړه، هلته په پرړېدو شوه، د کومې سره چې هغه ډېره زیاته بد رنګه شوه، د دې نه پس هغه بهیدونکو اوبو ته کوزه شوه، هلته ئې اولامبل نو مخکښینے حُسن ئې بیرته راغلو، د بدن نه ئې خټه هم لرې شوه، خرمن ئې هم نوې راغله، بالکل د مخکښې په شان شوه. د الله پاک نبي حضرت عیسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام چې دا اولیدل نو خپلو حواریانو ته ئې اوفرمائیل: دا ستاسو په لور د نبېې جوړولو سره رالیږلے شوې ده، دا د مؤمِن مثال دے، مؤمِن بنده ګناه کوي، خپل ځان بد رنګه او سخا کړي، بیا چې کله توبه کړي نو د ګناهونو تور والے د هغه نه لرې شي او هغه د مخکښې په شان ښکلے او ښائسته شي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا د توبې برکت دے، مونږ ته صرف احساس کول دي، ځانله کښیناستل دي او سوچ کول دي: ❁ زه دُنیا ته د څه د پاره راغلے ووم او څه کووم؟ ❁ زما شپې ورځې په کومو کارونو کښې تیریږي؟ ❁ زما دا سترګې قرآنِ کریم ته د کتلو د پاره دي، زه په دې باندې څه ته ګورم؟ ❁ زما ژبه د ذِکرُ الله کولو د پاره وه، زه په دې باندې څه څه وایم؟ ❁ زما غوږونه د تِلاوت، نعت، نیکو خبرو اوریدو د پاره وو، زه په دې باندې څه اورم؟ آه! وخت نزدې دے، مَلَکُ المَوت عَلَیۡہِ السَّلَام به تشریف راوړي، زما

[1]... حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء، جلد:6 ، صفحہ:60۔

د بدن نه به رُوح راښکاږي او وړي به ئې، بيا به ما د تيارو نه ډك قبر ته کوزولے شي، آه! ما ته د خپل رَبِّ کريم په حُضُور کښې حاضريدل دي، بس دا احساس، پښيماني، شرم، د رښتيني زړه نه توبه...! دا د ژوند د ټولو پريشانو حل دے.

## د بنده سره د الله کريم 2 رازونه

يو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ارشاد اوفرمائيلو: د بنده سره د الله پاک 2 رازونه وي کوم چې الله پاک د بنده په لور اِلهام کوي: **(1)** کله چې هغه د خپلې مور د ګيډې نه بهر راځي نو **الله پاک فرمائي: اے زما بنده! ما تهٔ دنيا ته پاک او سفا ستهرا راويستلے ئې او ژوند مې درله درکړے دے او تهٔ مې په دې امين جوړ کړے ئې. اوس به زه ګورم چې تهٔ څنګه د امانت حفاظت کوې؟** او **(2)** کله چې د هغه نه رُوح لاړ شي نو **الله پاک فرمائي: اے زما بنده! تا د ځان سره موجود زما د امانت سره څنګه سلوک اوکړو؟ آيا تا د دې حفاظت اوکړو د پاره د دې چې په خپل لوظ د قائم اوسيدو سره زما سره ملاقات اوکړې نو زه هم خپل قول پوره کړم يا بيا تا د دې نه ضائع کړل نو زه درنه تپوس اوکړم او ګير دې کړم؟**[1]

## که انسان ټول عمر اوژاړي نو بيا هم...!!

**اے عاشقانِ رَسُول!** فرض کړئ! د چا بنده سره ډيره قيمتي لعل دے او هغه لعل د هغه خپل نه دے بلکه د چا امانت دے، اوس که چرې هغه لعل د هغه نه چرته ورک شي نو هغه به څومره خفه وي؟ د هغه سره به غبرګ [يعني دوه چنده] غم وي، چې څيز خپل وي، ورک شي نو غم وي خو کم، د بَل چا څيز چې ورک شي نو غبرګ غم وي، **وړومبے** خو دا چې د لکونو کروړونو روپو نقصان اوشو، **دويم** دا چې د چا وو، اوس به هغه پته نه لګي چې زما سره څه کوي، دا غبرګ خفګان وي. اوس لږ غور اوکړئ!

[1]... احياء علوم الدين، کتاب التوبة، بيان ان وجوب التوبة ...الخ، جلد:4 ، صفحه:15 ملتقطاً۔

ژوند زمونږ سره امانت دے، زمونږه هره يوه ساه امانت دے او هره ساه قيمتي لعل دے، آه! مونږه دا قيمتي لعلونه ضائع کړل، که چرې د يو انسان راکړے شوے امانت زمونږ نه ضائع شي نو مونږه خفه کيږو خو د رَبِّ کريم عطا کړے شوي امانت ضائع کيدو زمونږ سره هيڅ غم نشته.

يه سانس کی مالا اب بس ٹوٹنے والی ہے
افسوس نَدامت بھی عِصياں پہ نہيں ہوتی

دل آه! مگر اب بھی بيدار نہيں ہوتا
نيکی کی طرف مائل عطارؔ نہيں ہوتا

## په ګناه باندې اِصرار مه کوئ!

اے عاشقانِ رَسُول! مونږ ته پښيمانه کيدل زده کول پکار دي، ياد ساتئ! په ګناه باندې اصرار يعني د ګناهونو عادت جوړول، د ګناه کولو سره په هغې باندې قائم پاتي کيدل، نه پښيمانه کيدل دا ډير غټ سپيره توب دے. الله پاک د خپلو نيکانو بندګانو دا صفت بيان کړے دے چې کله د هغوئي نه څه ګناه اوشي نو په هغې باندې اصرار نه کوي بلکه توبه کوي او الله پاک طرف ته رجوع کوي، هم دغسې په سيپاره 4، سورة آلِ عمران، آيت 135 کښې الله پاک فرمائي:

وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ۟ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ۟ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾

(پاره:4 ، سورة آلِ عمران:135)

[مفهوم] ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او هغه خلق چې کله څه بے حيائي اوکړي يا په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړي نو الله ياد کړي او د خپلو ګناهونو معافي اوغواړي او د الله نه علاوه څوک ګناهونه معاف کولے شي او دا خلق دې قصداً په خپلو بدو اعمالو باندې اصرار نه اونکړي.

دا د الله پاک نيکان بندګان دي چې کله د دوئي نه بقاضائے بشريت څه ګناه اوشي، په خپل ځان باندې ظلم اوکړي نو څه کوي: (1) ذِکرُ الله کوي (2) توبه او اِستِغفَار کوي (3) او په خپلو کړو [ګناهونو] باندې قصداً کلک نه اودريږي.

او کوم بنده چې دا صفتونه خپل کړي هغه ته څه ميلاويږي؟ الله پاک فرمائي:

اُولٰٓىِٕكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ جَنّٰتٌ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَاؕ وَ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ(۱۳۶)

(پاره:4 ، سورۂ آلِ عمران:136)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ العرفان: دا هغه خلق دي د کومو بدله چې د دوئي د رَبّ له طرفه بخښنه ده او هغه جنتونه دي د کومو لاندې چې نهرونه جاري دي. (دا خلق به) هميشه په دې (جنتونو) کښې اوسيږي او د نيک عملونو کوونکو څومره ښکلې بدله ده.

سُبْحٰنَ الله! چې بنده توبه کړي، په خپلې ګناه باندې کلک نه اودريږي بلکه پښيمانه شي نو د هغه بخښنه کيږي، د هغه د پاره د جنّت زيرے دے.

| | |
|---|---|
| یا خدا! میری مغفرت فرما | باغِ فِردوس مَرحمَت فرما |
| تو گناہوں کو کر مُعاف اللہ! | میری مقبول معذِرت فرما[1] |

## بهترين خطا کار

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ، وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ د هر انسان نه خطا کيږي او بهترين خطا کار هغه دے کوم چې توبه کړي.[1]

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:75 ملتقطاً۔

## د انسان کېدو يوه نښه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه انسانان يو، معصومان نه، معصومان خو صرف انبيائے کرام او فرښتې دي، زمونږ په شان د عامو انسانانو نه خطاګانے کيږي، مونږ له توبے طرف ته تلل پکار دي. امام غزالي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: مخلوق په درے قِسمه دے: (1) **فرښتې**: دا معصومې دي، دا ګناهونه هډو کوي نه (2) **شيطانان**: دا صرف ګناهونه کوي، ګناهونه پرېږدي نه (3) په دريم نمبر باندې انسانان دي، د انسانانو نه خطا هم کيږي او هغه توبه کوي او نيکو طرف ته هم ځي.

ځکه داسې خو هډو کېدے نشي چې زمونږ په شان د عامو انسانانو نه ګناه هډو اونه شي، باقي هم دوه صورتونه پاتې کيږي: (1) انسان په ګناه باندې اودريږي، دا د شيطان صِفت دے (2) چې کله د انسان نه ګناه اوشي نو فوراً د توبے په لور لا ړ شي، دا د انسان کېدو نښه ده.[2]

## د پښيمانه شوي بنده حکايت

د کِتَابُ التَّوَّابِين په صفحه 81 باندې ليک دي: د يو اسرائيلي کَس نه ګناه اوشوه، هغه ډير پښيمانه شو او بےقراره شو او اخوا ديخوا ئې منډې شروع کړې چې په څه طريقه باندې د هغه ګناه معاف شي او الله پاک د هغه نه راضي شي. د الله پاک په بارګاهِ رحمت کښې د هغه د بےقرارئ نه ډکه پښيمانتيا قبوله شوه او الله پاک هغه ته د ولايت ډيره اوچته مرتبه صِدِّيقيّت عطا کړله.[3]

---

[1]... ابنِ ماجه،کتاب الزہد، باب ذکر التوبة، صفحه:689 ، حديث:4251۔

[2]... احْيَاءُ الْعُلُوْم مترجم، جلد:4، صفحه:10 بتغير قليل۔

[3]... كِتَابُ التَّوَّابِين، صفحه:81۔

## اَوَّاب څه ته وئيلے شي؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږه ګنهګاران خلق يو، زمونږ نه ګناهونه کيږي، بس مونږ له پکار دي چې توبه کوؤ. الله پاک فرمائي:

فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِیْنَ غَفُوْرًا ﴿۲۵﴾

(پاره:15، بنی اسرائیل: 25)

[مفهوم] ترجَمهٔ كنزُ الايمان: نو بے شکه هغه د توبه کوونکو بخښنه کوونکے دے.

د ډيرې اوچتې مرتبے تابعي بزرګ حضرت سعيد بن مسيب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په دې آيت کښې د **اَوَّاب** نه مُراد هغه کَس دے د کوم نه چې ګناه اوشي، بيا توبه کړي، بيا ګناه اوشي، بيا توبه کړي.[1]

## توبه کوئ!

حضرت محمد بن مُطَرَّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: الله پاک فرښتو ته فرمائي: د آدم اولاد هم څنګه دے...!! ګناه کوي، بيا زما نه معافي غواړي، زه هغه معاف کووم، بيا ګناه کوي، بيا زما نه معافي غواړي، زه بيا هغه معاف کووم، نه هغه ګناه پريږدي، نه زما د رحمت نه مايوسه کيږي، اے فرښتو! ګواه اوسئ! ما دا اوبخښل.[2]

کر کے توبہ میں پھر گناہوں میں
ہو ہی جاتا ہوں مُبتَلا یاربّ!
نیم جاں کر دیا گناہوں نے
مرضِ عصیاں سے دے شِفا یاربّ!
کس کے در پر میں جاؤں گا مولا
گر تُو ناراض ہو گیا یاربّ![3]

---

[1] ... تفسیرِ طبری، پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل، زیرِ آیت:25، جلد:8، صفحہ:65۔
[2] ... شرح اصول اعتقاد اہل السنۃ و الجماعۃ، جز:6، جلد:3، صفحہ:374، رقم:2013۔
[3] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:79-80۔

## د توبې فائدې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک رحمت ډېر لوئے دے چې مونږ په خپلو ګناهونو باندې پښيمانه شو، توبه کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډېر برکتونه به ميلاؤ شي، په قرآنِ کريم کښې چې د توبې کومې فائدے بيان شوې دي، راځئ! واورئ!

(1): توبه کوونکو ته فلاح او کاميابي حاصليږي، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۱﴾ (پاره:18، سورۀ نور: 31) | [مفهوم] ترجَمۀ كنزُ الايمان: او د الله په لور توبه کړئ اے مسلمانانو ټول په دې اُميد باندې چې تاسو فلاح بيامومئ. |

(2) توبه کوونکي الله پاک محبوب ساتي، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ (پاره:2، سورۀ بقره: 222) | [مفهوم] ترجَمۀ كنزُ الايمان: بے شکه الله خوښوي ډېر توبه کوونکي. |

(3) په توبه کوونکو د الله رحمت وريږي، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ (پاره:6، سورۀ مائده:39) | [مفهوم] ترجَمۀ كنزُ العرفان: بس څوک چې د خپل ظلم نه پس توبه کړي او خپله اصلاح اوکړي نو الله به په خپله مهربانئ په هغه باندې رجوع اوفرمائي. |

(4) او د توبې کولو يوه ډېره اهمه فائده دا ده چې د توبه کوونکي ګناهونه په نيکو کښې بدلولے شي، الله پاک فرمائي:

اِلَّا مَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓىٕكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا(۷۰)

(پاره:19 ، سورۀ فُرقان: 70)

[مفهوم]ترجَمۂ کنزُ العرفان: خو چې څوک توبه کړي او ايمان راوړي او ښه کار اوکړي نو د داسې [خلقو] ګناهونه به الله په نيکو کښې بدل کړي او الله بخښونکے مهربانه دے.

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رَبِّ رحمٰن او رحيم څومره کرم نوازي ده، چې انسان توبه کړي نو د هغه ګناهونه په نيکو کښې بدلولے شي.

## د قيامت په ورځ په يو ګنهګار باندې کرم

د غيبو خبر ورکوونکے نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د قيامت په ورځ به يو کَس د الله پاک په بارګاه کښې حاضر کړے شي، حکم به اوشي: د ده صغيره [يعني واړه] ګناهونه دې ته وړاندې کړئ! نو هم دغسې به يوه يوه ګناه د ده وړاندې کړے شي، دا به د هرې يوې [ګناه] اقرار کوي او ويريږي به چې اوس لا د غټو ګناهونو نمبر راروان دے، په دې کښې به حکم اوشي: ستا د هرې يوې ګناه په ځائے يوه نيکي ده. اوس به هغه په زوره وائي: مولا! اوس خو لا ډېر غټ ګناهونه دي د کومو چې لا ذِکر نه دے شوے. حضرت ابو ذَرّ غِفَاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: دا ئې چې اوفرمائيل نو حُضُور

اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سم ډېر مُسکے شو تر دې پورې چې نَواجِذ (يعني شاتني غاښونه مبارک) ئې ظاهر شو.[1]

## شبِ براءَت د توبے شپه ده

اے عاشقانِ رَسُول! توبه ډېر غټ نِعمَت دے، مونږ له توبه پکار ده. شبِ براءَت تشريف راوړونکې ده، د توبے شپه ده، اُمُّ المُؤمِنين حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي، سرورِ کائنات، شاهِ موجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه الله د شعبان په پينځلسمه شپه د آسمان په دُنيا باندې تجلي فرمائي او د قبيله بنو کلب د چيلو د ويښتو نه هم زيات ګنهګاران بخښي.[2]

د رواياتو مطابق د شعبان په پينځلسمه شپه يعني شبِ براءَت شروع کيدو نه مخکښې د تير شوي کال عمل نامے راغونډولے شي، دې د پاره د دې مبارکې شپې د راتلو نه مخکښې مخکښې توبه کول او د الله پاک نه د خپلو تيرو شوو ګناهونو معافي غوښتل پکار دي.

## د توبے طريقه

د اسلام وړومبے خليفه حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيانوي چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چې کوم ګس هم څه ګناه اوکړي بيا په ښه طريقه

---

[1]... مسلم، کتاب الايمان، باب ادنى اہل الجنۃ منزلۃ فيہا، صفحہ:93 ، حديث:190۔

[2]... ترمذی، کتاب الصوم، باب ما جاء فی ليلۃ النصف من شعبان، صفحہ:207 ، حديث:739۔

اودس اوکړي او دوه رکعته لمونځ ادا کړي او بيا د الله پاک نه معافي اوغواړي نو الله پاک د هغه بخښنه کوي. بيا هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آيت تلاوت اوفرمائيلو:[1]

وَ الَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۚ وَ مَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۚ۫ وَ لَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَ هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾

(پاره:4 ، سورۃ آلِ عمران:135)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ العرفان: او هغه خلق چې کله څه بے حيائي اوکړي يا په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړي نو الله ياد کړي او د خپلو ګناهونو معافي اوغواړي او د الله نه علاوه څوک ګناهونه معاف کولے شي او دا خلق دې قصداً په خپلو بدو اعمالو باندې اصرار نه اونکړي.

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپل کتاب **مدني پنج سوره** کښې فرمائي: د توبے کولو طريقه دا ده چې کومه ګناه اوشوه خاص د هغې ګناه د ذِکر کولو سره د زړه د بيزارئ او بيا د پاره دې د هغې ګناه نه د بچ کيدو لوظ اوکړي او توبه دې کړي. مثلاً دروغ ئې اووئيل، نو د الله پاک په بارګاه کښې دې عرض اوکړي، يا الله پاکه! ما چې دا کوم دروغ اووئيل د دې نه توبه کووم او بيا به دروغ نه وايم. د توبے په وخت دې په زړه کښې نفرت وي او **بيا به نه وايم** وئيلو په وخت دې په زړه کښې دا اراده هم وي څه چې وايم هم داسې به کووم بيا توبه ده. که د بنده حق ئې وهلے وي نو د توبه کولو سره سره د هغه بنده نه مُعافي اخستل هم ضروري دي.[2]

[1]... ابو داؤد، کتاب الصلاة ، باب فی الاستغفار، صفحہ:247 ، حديث:1521۔
[2]... مدنی پنج سوره، صفحہ:344۔

## د ګناه ختمولو وظيفه

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: کوم کَس چې درې ځله اَسْتَغْفِرُ اللهَ الْعَظِيْمَ الَّذِیْ لَا اِلٰہَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَ اَتُوْبُ اِلَيْهِ (يعني زه د الله پاک نه د بخښنې سوال کووم د کوم نه علاوه چې بَل معبود نشته او هغه پخپله ژوندے دے نور قائم ساتلو والا دے زه د هغه په لور رجوع کووم) اولولي د هغه ګناهونه به اوبخښلے شي اګر چې د سمندر د زګ نه زيات وي.[1]

الله پاک دې مونږ ته د رښتينې پخې توبے توفيق رانصيب کړي. کاش! مونږه ګناهونه پريږدو، ښه ډيرې نيکئ اوکړو، الله پاک راضي کوونکي کارونو کښې مصروف شو، کاش! کاش! کاش! د شبِ براءَت په وسيله زمونږه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

| | |
|---|---|
| گناہگار ہوں میں لائقِ جہنَّم ہوں | کرم سے بَخش دے مجھ کو نہ دے سزا یاربّ! |
| بُرائیوں پہ پَشیماں ہوں رَحم فرمادے! | ہے تیرے قَہر پہ حاوی تری عطا یارب! |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدرسة المَدينه بالِغان

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د ګناهونو نه د خلاصي موندلو د پاره، د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمانبردار بنده جوړيدلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک د دعوتِ اسلامي ديني ماحول لمَن اونيسئ! په 12 ديني کارونو کښې هم ښه په شوق سره حِصَّه

[1]... تَنْبِيْهُ الْغَافِلِين، باب آخر من التوبة، صفحه:59-

اخلئ!اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دين او دُنيا بے شميره خيرونه به در نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **مدرسة المَدينه بالِغان** هم دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي تحت په جُماتونو کښې، سکولونو او کالجونو او مارکيټونو وغيره کښې په لګيدونکو مدارسُ المَدينه بالغان کښې د زيات عمر اسلامي ورونړو ته په صحيح تجويد او مخارج سره قرآنِ کريم لوستل ښودلے شي او د دې سره سره بنيادي ضروري احکام و مسائل او سُنّتونه او آداب هم ښودلے کيږي.

## د سُنَّتو عامِل جوړ شو

د بلوچستان اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې زه ډير فيشن پرست ووم، په مخ مې نه ګيره وه او نه مې په سر د پټکي شريف تاج وو، د سُنَّتو د لارې نه لرې د دُنيا په مينه کښې مې خپل قيمتي ژوند د بے عملئ او جهالت په تيارو کښې تيرولو. زما په ژوند کښې رڼا څه داسې راغله چې يوه ورځ د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق لرونکي يو اسلامي ورور زما د تجويد سره د قرآنِ پاک لوستلو ذهن جوړ کړو، د ماسخُتن د لمَانځه نه پس په لګولے شوې مدرسة المَدينه بالِغان کښې ئې د شرکت کولو دعوت راکړو، ما د هغه د نيکئ دعوت قبول کړو او **په مدرسة المَدينه بالِغان کښې مې شرکت اوکړو،**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! **د دې په برکت ما د تجويد سره قرآنِ کريم زده کړو او فيشن پرستي مې پريښودله او په سُنَّتو عمل کوونکے جوړ شوم.**

یہی ہے آرزُو تعلیمِ قرآں عام ہو جائے
تلاوت کرنا صُبح وشام میرا کام ہو جائے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کلمه اينډ دُعا (Kalma & Dua) ايپ پيژندګلو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن د **کلمه او دُعا** (***Kalma & Dua***) په نوم جاري کړے دے. د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ډير آسان انداز کښې د ماشومانو تربيت کيدے شي ❁ په دې ايپلي کيشن کښې د ماشومانو د پاره 6 کلمے د آډيو په شکل کښې د حرفونو د ادائيګئ او ترجمے سره ❁ روزمره 16 مختلفې دُعاګانے مثلاً د اوبو څښلو دُعا ❁ د اوده کيدو په وخت دُعا وغيره د حرفونو د ادائيګئ او د ترجمې سره او په مختلفو موضوعاتو باندې سُنَّتونه او آداب وغيره شامل دي. په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او فائده ترې واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... مشکوٰة،کتابُ:الْايمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

## عيادت (يعني د بيمارتپوس کول) سُنَّتِ مصطفٰی دے

دوه فرامينِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) څوک چې د مريض تپوس کوي هغه د جنّت په باغ کښې کښيني، کله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې د شپې پورې د هغه د پاره دُعا کوي.[1] (2) څوک چې د ثواب په طمع د خپل مسلمان ورور تپوس اوکړي، هغه به د دوزخ نه د 70 کالو په فاصِله لرې کړے شي.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! د مريض تپوس کول سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکه سُنَّتِ انبياء دے ❀ د خوږ نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د کوم يو صحابي (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) د بيمارئ خبر به ورته ميلاؤ شو نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو ❀ که چرې يو کَس به 3 ورځې جُمات ته رانغلو نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره کښې د خلقو نه پوښتنه کوله، که چرې هغه به بيمار وو نو د هغه تپوس له به تللو[3] ❀ او که چرې د تپوس کولو د پاره به د مدينے منورې آخري سر ته هم تلل وو نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تشريف وړلو او دخپلو صحابه کرامو (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم) تپوس به ئې کولو.[4]

❀ مشهور مُفَسِّرِ قُرآن حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقِ کريمه نه دي چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غريب

---

[1]...شعب الايمان، مريض کی عيادت کا باب،جلد:6، صفحہ:531،حديث:9171۔

[2]...ابو داؤد ،کتاب:جنائز ، باب :وضو ميں عيادت کی فضيلت، صفحہ: 500، حديث:3097۔

[3]...مسند ابی يعلی، جلد:3، صفحہ: 141، حديث: 3429۔

[4]... مسلم،کتاب: جنائز، مريض کی عيادت کا باب ،صفحہ:331، حديث:925خلاصۃً۔

تپوس له د هغوئي کور ته تشريف وړلو.[1] د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک دا وو چې کله به ئې د مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو نو فرمائيل به ئې: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله (يعني هيڅ باک نشته که الله پاک اوغواړي نو دا مرض (د ګناهونو) نه پاک کوونکے دے) د يو اعرابي (يعني د کلي اوسيدونکي) د تپوس د پاره ئې تشريف يوړلو نو دا [کلِمات] اوئې فرمائيل: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله.[2]

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدينه **بهارِ شريعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اولولئ ئې! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو — خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو
سادگی چاہئے، عاجزی چاہئے — لینے یہ نعمتیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب — صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...مرآة المناجيح، جلد: 2، صفحه:407۔

[2]...بخاري، كتاب: المناقب، صفحه:919، حديث:3616۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبُر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون،ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړې شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

1... القول البديع،الباب الثانی، ص٢٧٧
2... افضل الصلوات على سيد السادات،الصلاة الثانية والخمسون،ص١٤٩
3... القول البديع،الباب الاول،ص١٢٥

ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب        صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب،كتاب الذكر و الدعاء،۲/۳۲۹،حديث:۳۰
2... مجمع الزوائد،كتاب الادعية،باب فى كيفية الصلاة...الخ،۱۰/۲۵۴،حديث:۱۷۳۰۵
3... تاريخ ابنِ عساكر،۱۹/۱۵۵،حديث:۴۴۱۵